بسم الله الرحمن الرحیم

# د کرونا ویروس (کوویډ ۱۹) خپرېدو په مسلمانانو کې شته خیر او د واکمنانو فساد په ډاګه کړ!

**(ژباړه)**

د پاکستان نجیب او عزتمند مسلمانان به د هرې هغې بلا پر وړاندې چې د الله سبحانه وتعالی له لوري وه، لکه زلزله او سېلابونه، داځل هم په صبر، زغم او د کرونا ویروس پر وړاندې د خواخوږۍ احساس په درلودو سره مبارزه کوي. نو هلته خلکو له هرې هغې وسیلې چې ګټه یې رسولی شوای د خپلې ټولنې له خلکو سره د دغه ویروس د مخنیوي لپاره له یوبل سره مرسته وکړه. د دوی دغه عمل د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم دی. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ»**

(ابن ماجه)

*__ژباړه:__ مه د زیان لامل کېږئ او مه چاته زیان رسوئ!*

په غرب کې د خپلسرو خریداریو او د دې وبا د خپرېدو په جریان کې د لومړنیو توکو د برابرولو په پرتله، د پاکستان مسلمانانو خپل پام تر ډېره خریداریو ته کړ. دوی له بېوزلو کسانو سره په مرسته کولو کې له خپلو شتمنیو ګټه واخیسته. نو دا عمل یې هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو سره سم دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ اَلدُّنْيَا، نَفَّسَ اللَّهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ»**

(سنن ترمذی)

*__ژباړه:__ هر هغه څوک چې د دونیا له غمیزو او مصبتونو یو مسلمان وژغوري، الله سبحانه وتعالی هغه د قیامت په ورځ له مصبتونو څخه ساتي.*

د پاکستان مسلمانانو په صبر، دعا او پر الله سبحانه وتعالی په توکل سره پخپل باطن کې په شته خیر غوښتنې او خیر رسوونې سره د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې دا څه ثابت کړل. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«عِظَمُ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلاَءِ وَإِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلاَهُمْ فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا وَمَنْسَخِطَ فَلَهُ السُّخْطُ»

(ابن ماجه)

***ژباړه:*** *تر ټولو ډېر ثوابونه له لويو بلاګانو سره دي او هر کله چې الله سبحانه وتعالی له کوم قوم سره مينه ولري، هغوی له بلا سره مخ کوي؛ نو که هغه راضي او خوښ و، د الله سبحانه وتعالی خوښي يې تر لاسه کړه او که ناخوښ و، غچ يې ترې اخلي.*

د پاکستان د واکمنانو او عامو خلکو تر منځ ښکاره ټکر ليدل کېږي. له يوې خوا پر اسلام د پاکستان د مسلمانانو منګولې لګول او بل خوا د پاکستان واکمنان په خپل حاکميت کې د هغه څه خلاف امر کوي، چې الله سبحانه وتعالی نازل کړي دي. دغو واکمنانو په دې الهي ابتلا (امتحان) کې د مسلمانانو د ستونزو د حل پر ځای، د اسلام د حکم خلاف د خلکو پر ستونزو نور دروند بار هم ور ډېر کړ. که څه هم رسول الله صلی الله عليه وسلم موږ ته دستور کړی او فرمايلي يي دي:

«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا»

(رواه بخاری)

***ژباړه:*** *که مو واورېدل چې په کوم هېواد کې طاعون ښکاره شوی او خپور شوی دی، هغې خاورې ته مه ننه کېږئ او هر کله چې په داسې خاوره کې اوسېږئ، چې هلته طاعون ښکاره شو، بېرون ته مه ترې وځئ.*

د دغه هېواد واکمنانو هغه کسان چې له ايران څخه راتلل او هغه کسان چې پر کرونا اخته وو، په يوه ځای کې وساتل. دغو واکمنانو هغه ټول کسان بيرته ازاد کړل، څو په ټول پاکستان کې خپلو کورونو ته ولاړ شي. دغه امر په بلوچستان، پنجاب او سند کې د کرونا وېروس د خپرېدو لامل شو. که څه هم رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:

«لاَ تُورِدُوا المُمْرِضَ عَلَى المُصِحِّ»

(رواه بخاری)

***ژباړه:*** *د احتياط په توګه، هېڅ وخت يو ناروغ له بل روغ سره په يو ځای کې مه ساتئ.*

همدغو واکمنانو روغ کسان او ناروغان یوځای د دغه هېواد په پولو کې د قرنطین په مرکزونو کې یوځای وساتل او یاد امر د دې لامل شو چې له ناروغ څخه روغ ته د کرونا ویروس د خپرېدو زمینه برابره شي. همدارنګه د دغه هېواد واکمنان پر دې هم ونه توانېدل چې د نرسانو او ډاکترانو لپاره شخصي محافظتي جامې برابرې کړي، په داسې حال کې چې د کرونا ویروس ذرې په هوا کې (aerosole)، چې د روغتون په چاپېریال کې پیدا کېږي، ټولو ته خپرېږي. دوی له یوې خوا له عامو خلکو د یو بل تر منځ د واټن ساتلو غوښتنه کوي، خو له بلې خوا یې له کرونا ویروس څخه د ډاکترانو او نرسانو په ساتلو کې ظلم روا وباله. که څه هم الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَذَرُوا مَا بَقِيَ مِنَ الرِّبَا إِنْ كُنتُمْ مُؤْمِنِينَ -فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ...﴾**

[بقره: 278-279]

***ژباړه:*** *اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی! د الله سبحانه وتعالی له عذاب او فرمان څخه له سرغړونې ډډه وکړئ او هغه څه پرېږدئ چې له سود او ربا څخه پاتې دي؛ که مومنان وئ. که مو داسې ونه کړل، پوه شئ چې له الله سبحانه وتعالی او له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مو جګړې ته دانګلي دي.*

د پاکستان واکمنان د سودي پورونو د ورکړې په راټولولو ټینګار کوي، چې تر اوسه یې د دولت ډېره برخه بودجه لګولې ده. په داسې حال کې چې د ټولنې عام خلک د روغتیايي سیسټم د ساتنې په اړه له سختې ستونزې او ځورېدنې سره مخ دي. په هغه خاوره کې چې ملي بیړنی حالت اعلان شوی، دویم سودي معاملې چې د شرعیت خلاف دي؛ خو د پاکستان واکمنانو د ډېر پور د اخیستلو لپاره د پیسو له نړیوال صندوق سره خبرې اترې وکړې، چې ټولې د سود پر بنسټ دي.

یاد حکومت د روغو او ناروغو کسانو د بېلولو لپاره هڅه ونه کړه او وروسته یې په پاکستان کې ملاماتوونکی قرنطین پلی کړ. جالبه دا ده چې وروسته همدغه حکومت د خلکو لپاره مرستندویه اقتصادي بستې (لومړني توکي) اعلان کړل. په حقیقت کې دغه کومکي بستې له غربي حکومت څخه له تقلید کولو پرته بل هېڅ نه دي، چې په دغو پالیسیو سره غواړي د کپیټلېزم ډوبه شوې بېړۍ له ورکېدو او ویجاړېدو څخه وژغوري؛ خو دې وبا یو ځل بیا دا ثابته کړه چې ډیموکراسي د ګواښونو پر وړاندې څومره کمزورې او ماتېدونکې ده.

د پاکستان واکمنان ان د کوویډ ۱۹ ابتلا د خپرېدو په جریان کې هم غواړي چې تر ډېره د باطلو او سودي معاملو په ترسره کولو کې هڅه وکړي. دغه راز د پاکستان د روپۍ په ډېر چاپېدو سره د هغې د ارزښت راټیټېدل غواړي. همدغه امر د روپۍ په بې ارزښته کېدو سره د تورم ناوړه کېدو ته لار هواروي. د یاد امر پایله د کرونا

ویروس تر پایته رسېدو وروسته د ډېرو سودي مالیو د ورکړې لامل کېږي. د پاکستان واکمنانو د الله سبحانه وتعالی له احکامو څخه په پرلپسې سرغړونې سره د الله سبحانه وتعالی دغه کلام حقیقت ثابت کړ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا...﴾**

[طه: 124]

***ژباړه:*** *هر هغه څوک چې زما له یاد څخه مخ واړوي (د اسماني کتابونو له احکامو څخه لېرې شي) له سخت او تنګ ژوند سره به مخ شي.*

د پاکستان واکمنانو پخپله واکمنۍ کې د غفلت یوه بله دروازه هم پرانیستله او هغه دا چې مسلمانان یې مسجدونو ته له تګ څخه محروم کړل. که عامو خلکو روغتیايي تدابیر مراعات کړي هم وي. په داسې حال کې چې مسلمانان د مغفرت غوښتلو او الله سبحانه وتعالی د نېږدېوالي په موخه مسجدونو ته ځي. له لمانځه څخه د مخنیوي په برخه کې د پاکستان د واکمنانو اوسنی عمل د اسلام له احکامو سره ښکاره په ټکر کې دی. په اسلام کې د مسجد د لمانځه حکم فرض کفايي او د جمعې د لمانځه حکم فرض عین دی.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** څنګه چې د حضرت موسی علیه السلام لکښې د فرعون جادوګر بې نقابه کړل، همغسې د الله سبحانه وتعالی تر ټولو کوچني مخلوق د بشر په لاس جوړ شوي نظام له بې ثباتۍ پرده پورته کړه؛ هغه مخلوق چې یوازې د الکترونیکي میکروسکوپ په واسطه د لیدو وړ دی. د دې وبا خپرېدو نه یوازې په پاکستان، بلکې په ټوله نړۍ کې د خلکو د روغتیا ساتنې او اقتصادي خوندیتوب په برخه کې د پانګوالۍ (کپیټلېزم) او واکمن نظام یعنې د ډیموکراسۍ ناکامي ښکاره کړه.

له شک پرته چې الله سبحانه وتعالی په خپل تر ټولو کوچني مخلوق سره په دونیا کې شته انسانانو ته دا وښودله چې د بشر په لاس جوړ شوی نظام یعنې ډیموکراسي د خلکو د ساتنې په برخه کې ناکامه او بې پروا ده. عام خلک د داسې باطل نظام مستحق نه دي، ځکه د دغه نظام د نسکورېدو وخت رارسېدلی دی. یا له ماتې سره مخ شوی، د ډیموکراسي نظام باید ژر تر ژره له ریښو سره له منځه یووړل شي او پر ځای یې د نبوت پر تګلاره د خلافت دولت تاسیس شي؛ څو د انسانانو په ژوند کې له کوم ځنډ او زیان پرته پر خیر غوښتونکو، نجیبو او ربښتینو مسلمانانو یو داسې نظام واکمن شي چې د چارو په ساتنه کې یې پر حق دین ولاړ وي.

په رښتیا چې الله سبحانه وتعالی د نبوت په تګلاره د راشده ثاني خلافت د تاسیس لپاره یو طلايي فرصت برابر کړی دی. د خلافت د تاسیس کېدو امر له مخالفت او مخالفینو پرته ترسره کېدای شي، ځکه د کرونا ویروس

بحران دښمن ښکېلاکگر قدرتونه د خپلو اقتصادونو د سقوط په مخنیوي کې ناکام کړي او په ټولیز ډول یې هم اقتصاد او هم یې په خلکو کې باور له گواښ سره مخ کړی دی.

څنگه چې موږ د روژې مبارکې میاشتې په هر کلي کې بیړه کوو، راځئ موږ ټول له سترېیا پرته د ظالم حاکمیت د پای ته رسېدو لپاره فعالیت وکړو او د الله سبحانه وتعالی د کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو اړوندې واکمنۍ راژوندي کېدو لپاره لاس پکار شو. په رښتیا چې نړۍ اوس دې ته چمتو ده چې د بشر په لاس جوړ شوي نظام درند بار لېرې وغورځوي او دغه نړۍ هغه غوره امت ته په تمه ده چې د لارښوونې لپاره پیدا شوی دی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ...﴾**

[آل‌عمران: 110]

***ژباړه:*** *تاسو تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو غوره امت یاست، چې د انسانانو د گټې لپاره پیدا شوي یئ. په معروف امر کوئ، منکر نه ترسره کوئ او پر الله سبحانه وتعالی ایمان لرئ.*

**حزب التحریر ـ ولایه پاکستان**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**